# بسم الله الرحمن الرحيم

د علمي ـ څېړنيز کنفراس سرليک:

# په اوس وخت کې د فولکلور ارزښت

وړاندې کوونکی: څېړنیار یاسر پاچا

۱۴۰۱ل. کال

سريزه

ـ د څېړنې اهميت او مبرميت

ـ د څېړنې موخې

ـ د څېړنې پوښتنې

ـ د څېړنې ميتود او ډول

۱ـ د فولکلور او فولکلوري ادب لنډه پېژندنه

۲ـ خپله ارزښت څه شی دی؟

۳ـ د فولکلوري ادب د ارزښت په اړه د پوهانو نظرونه

۴ـ د فولکلوري ادب ارزښتونه

الف ـ ادبي ارزښتونه

ب ـ ټولنيز ارزښتونه

۵ـ په اوس وخت کې يې ارزښت څه دی؟

ـ پايله

ـ وړانديزونه

ـ مأخذونه

**د څېړنې اهمیت او مبرمیت**

په دې علمي ـ څېړنیز کنفرانس کې د فولکلور په ارزښت او اهمیت خبرې شوې او هم پکې څرګنده شوې چې فولکلوریک یا ولسي ادبیات، تاریخ تېرې او تشې خبرې نه دي، بلکې دا هغه ادبیات دي چې په هر وخت او زمان کې له خپل خاص اهمیت څخه برخمن وي او هېڅوک یې له ارزښت او اهمیت څخه سترګې نه شي پټولی.

**د څېړنې هدف**

هره لیکنه او څېړنه خپل ځانګړی هدف او مقصد لري چې هغه په اصل کې د حقایقو څرګندول دي، د دې علمي ـ څېړنیز کنفرانس له لیکلو او بشپړولو څخه موخه، په اوس وخت کې د فولکلور او فولکلوریکو ادبیاتو د ادبي او ټولنیزو ارزښتونو رابرسېره کول دي.

**د څېړنې پوښتنې**

۱ـ فولکور څه ته وايي؟

۲ـ ارزښت څه شی دی؟

۳ ـ په اوسني پېر کې د فولکلور او فولکلوريکو ادبياتو عمده ارزښت څه دی؟

۴ ـ آيا په اوسني پېر کې د فولکلوريکو ادبياتو ټولنيز نتايج موږ ته ګټه لرلی شي؟

دا او دې ته ورته نورې ډېرې پوښتنې په دې کنفرانس کې ځواب شوې دي.

**د څېړنې ميتود او ډول**

د څېړنې ميتود تشريحي او توضيحي دی. د څېړنې ډول کتابتوني او يادښتيز دی.

اما په ټوليزه توګه د داسې موضوعاتو په شننه کې **له تام او يا ناقص استقرايي ميتود** څخه کار اخېستل کېږي چې د دې څېړنې روش ناقص استقرايي ميتود يادولای شوو، يعنې په دې څېړنه کې بحث له کل څخه جز ته صورت نيولی دی.

## د فولکلور لنډه پېژندنه

ـ فولکلور انګلیسي اصطلاح ده چې له دوو کلیمو څخه ترکیب شوې ده، فولک (folk)خلکو ته وايي او لور (lore)ادبیاتو، زده کړې او پوهې ته وايې چې معنا يې ولسي پوهه ده.

ـ د فولکلور اصطلاح لومړی وار....( تامس ۱۸۴۶).

ـ فولکلور د یوې ټولنې د ژوند د واقعیتونو انعکاس دی.

ـ فولکلوریک ادبیات؛ هغو... چې د عام ولس له خوا رامنځ ته شوي وي، لیکوال يې معلوم نه وي، سینه په سینه له یوه نسل څخه بل نسل ته پاتې کیږي.

**فولکلور**

۱ـ مادي فولکلور

۲ـ معنوي فولکلور

۱ـ هغه چې په فزیکي ډول وجود ولري، لکه: د جګړې، ښکار او کر کیلې وسایل، بېلابېل محلي خوراکونه، لباسونه، اشرې، معماري او....

۲ـ هغه ولسي دودونه، روایات او نورې پېښې چې په نظم او یا نثر کې وړاندې کیږي. په معنوي فولکلور کې ادبیات، پوهنې او د خلکو دودونه شاملیږي. دوه برخې لري: نظم او نثر.

ادامه...

**د فولکلوریک ادب مهمې ځانګړنې**

۱. شفاهي توب

۲. نظم یا نثر وي

۳. ویونکي یې معمولاً معلوم نه وي.

۴. په ادبي دورو نه وېشل کېږي.

۵. د کلتور د یوه جز په توګه په هره ټولنه کې شته دی.

۶. د هرې ټولنې د خپلو طبیعي او کلتوري شرایطو محصول وي.

هره ټولنه ځانته د خپلو طبیعي او کلتوري شرایطو مطابق ادبیات تخلیقوي لري. پښتون ولس هم د خپل ژوندانه په بېلابېلو پړاوونو کې د خپلو طبیعي او کلتوري شرایطو مطابق ادبیات رامنځ ته کړي دي چې د خپل وخت د دودونو، ارزښتونو، عقایدو او داسې نورو خواوو یادونه یې پکې کړې ده.

## لومړی اړینه ده چې ارزښت وپېژنو...

**ارزښت**

ارزښت چې جمع یې ارزښتونه دي، یو لړ اصول او قواعد دي چې د هغو په مرسته کولای شو، د ځینو شیانو کیفیت (ځرنګوالی) پیدا او وپېژنو.

ارزښتونه په لومړي سر کې په دوو برخو وېشل کېږي: ۱ـ مادي ارزښتونه؛ هغه ارزښتونه دي چې په فزیکي ډول وجود ولري او د یوې ټولنې مطلق اکثریت خلک ورته په احترام قایل وي، لکه بیرغ، پولي واحد افغانۍ او.... ۲ـ معنوي ارزښتونه، لکه ملي سرود، ملي ادبیات او....

ـ ارزښتونه هم مثبت او هم منفي کېدای شي.

**د پښتو فولکلور او فولکلوري ادب، د ارزښت په اړه د پوهانو نظرونه**

۱. **فرانسوی جیمز ډار مستېټر** په خپل اثر د (پښتونخوا د شعر هاروبهار) کې د فولکلوري ادب د ارزښت په اړه لیکي: «پښتانه ورځپاڼې او اخبارونه نه لري، خو د دوی ولسي سندرې د ورځپاڼو او اخبارونو حیثیت لري.»

۲. **ناروېژی مارګینستیېرن لیکي:** « ... ما د خوشحال خان خټک د شعرونو او پښتو لنډیو لپاره پښتو ژبه زده کړه، بیا لیکي: که ټول پښتانه تباه هم شي، نو لرغون پېژندونکي به د دوی د ژوند ټول اړخونه له همدغو لنډیو څخه بېرته را ژوندي کړي.»

۳. جرمنی ژبپوه، **سبستاین هاینه (زمری خان)** وایي: ( د نړۍ په څلور څلوېښت (۴۴) ژبو کې چې ما زده‌کړي، تر ټولو خوږه ژبه پښتو ده...کوم څه چې د زه د پښتو ژبې زده کولو ته وهڅولم، هغه د پښتو ژبې ولسي یا فولکلوریک ادب دی او بیا په خاصه توګه د پښتو متلونه، پښتو هم ژبه ده او هم قانون.

۴. روسی لیکوال، **ماکسیم ګورکي** لیکي: « موږ هغه وخت د یوې ټولنې د مبارزو انسانانو په تاریخ پوهېدلی شو چې د فولکلور په اړه یې جامع معلومات ولرو.»

**د فولکلوریکو ادبیاتو ارزښتونه**

زموږ فولکلوریک ادب د ارزښتونو د پاللو له مخې بې ساری دی، لکه: ملي ارزښتونه، ټولنیز ارزښتونه، ژبني ارزښتونه، ادبي ارزښتونه او... پالل شوي دي.

**الف ـ ادبي ارزښتونه**

هر څه ځانته خپل ځانګړي ارزښتونه او معیارونه لري، مثلاً ادبي ارزښتونه، ټولنیز ارزښتونه، ملي ارزښتونه او... چې د هم هغو ارزښتونو په واسطه اړوند شیان پېژندل کیږي، په دغه برخه کې ادب هم ځانته خپل مشخص ارزښتونه لري چې ادبي لیکنې له نورو (عادي) لیکنو څخه جلا کوي، مثلاً د ژبې سوچه والی، تخیل، منظر کشي، هنریت، تصور او تخیل، روانې، ښکلا، احساسات او ... چې دا ټول ادبي ارزښتونه دي.

ـ د فولکلوري ادب او لیکني ادب ارزښتونه هم یو شی نه دي؛ بلکې په ځینو مواردو کې جلا دي، مثلاً په ولسي ادب کې د سیمه ییزې لهجې ساتل تقریباً د ولسي ادب یو ارزښت دي؛ خو په لیکلي ادب کې بیا لږ تر لږه معیار په نظر کې نیول کیږي.

۱. په فولکلور کې عامیانه لغتونه، اصطلاحات او محاورې د ولسونو په لهجه ساتل شوي دي.

۲. فولکلور کې تر ډېره د نورو ژبو او فرهنګونو تر اغېز لاندې نه دی راغلی؛ بلکې یواځې پکې د خپل چاپېریال ژبه او دودونه بیان شوي دي.

ادامه...

۳. د فولکلوریک ادب ژبه سوچه، روانه او ښکلې ده.

۴. د فولکوریک ادب خوږوالی زیات دی، د فکر ښه، طرز او شکلي چوکاټ یې ولسي دی، بل پلو یې محتویات یې هم ولسي دي او له ولسي پېښو څخه رنګ اخلي.

۵. په پښتو فولکلوري ادبیاتو کې په زړه پوری ربط، لوړ تخیل او ښکلی تنظیم لیدل کېږي او د خلکو په عامه ژبه بیانېږي.

۶. فولکلوري ادب ډېر ساده او اغېزناک دی، هېڅ راز پېچلتیا نه لري او تاثیر یې دومره ډېر دی چې په ځینو حالاتو کې د انسان له سترګو بې اختیاره اوښکې روانې کړي.

۷. فولکلوري ادب په خپله یوه جمله یا یوه بیت کې په معنوي لحاظ یو بشپړ مفهوم وړاندې کوي، مثلاً که د ولسي ادب طنزیه برخې ته راشو:

ایمان دې ښه راته معلوم دی

په رواجي بریتو دې مه وهه لاسونه

ـ یا که څوک یو بې فایدې او فضول کار کوي، نو ورته وویل شي: د خره په لکۍ سپرېدل.

۸. فولکلوري ادب ډېر لږ له هغو شیانو سره سروکار لري چې هغه انساني ذهن ته نا اشنا وي.

**ب ـ ټولنيز ارزښتونه**

- هر هغه څه چې ټولنه ورته په اهميت قايله وي او د يو جوهر په توګه يې ومني، ټولنيز ارزښت ګڼل کيږي، که هغه مادي ارزښتونه دي يا معنوي. د بېلګې په توګه اخلاق ټولنيز ارزښت دی، کلتور، راشه درشه، مېلمه پالنه، درناوی او... دا ټول ټولنيز ارزښتونه دي.
- په بله وينا هر هغه څه چې د ټولنې د ستاينې وړ وي ټولنيز ارزښت ګڼل کيږي. کېدای شي يو څه به د ځېنو لپاره د منلو وړ نه وي، يا به په حقيقت کې ارزښت نه وي، خو د ټولنې اکثريت چې يې ارزښت ګڼي ټولنيز ارزښت دی، لکه د نسب او قوميت موضوع ښايي ډېرو ته د منلو وړ نه وي او په عقيده کې هم دا اصل په پام کې نه نيول کيږي، خو په دې سترګې نه شي پېتېدای چې دا ټولنيز ارزښت دی او خلک ورته په ارزښت قايل دي.
- ټولنيز ارزښتونه دی چې يوې ټولنې ته هويت ورکوي چې په هماغو ارزښتونو بيا هغه ټولنه پېژندل کيږي، د مثال په ډول افغانان د ميلمه پالنې، ازادئ غوښتني او مېړانې په برخه کې ښه پېژندل شوي چې دا ټول زموږ د افغاني ټولنې ټولنيز ارزښتونه ګڼل کيږي. څرنګه چې فولکوريک ادبيات د همدغو ټولنو فکري توليد دی، نو ځکه پکې تر ډېره د همدغو ټولنو ټولنيز ارزښتونه نغښتل شوي دي چې اوس به يې

ادامه...

1. فولکلور زموږ د اجتماعي عقایدو او افکارو یوه داسې هینداره ده چې زموږ د ولسونو سیاسي، تاریخي او اجتماعي حالات پکې بیان شوي دي او نړدې د ژوند د هر اړخ ترجماني کولای شي.

د تورې وار راباندې وکړه / راته رانه کړې د بې پتو پېغورونه

۲. په فولکلوریک ادب کې د پښتون ولس د بېلابېلو قومونو ژوند پروت دی، دودونه او رواجونه یې پکې ساتل شوي او د مبارزو او کارنامو تاریخ یې پکې نغښتل شوی دی.

ننواتې: سر مې سرتور قران په غېږ کې / د مرور یار ننواتې له ورځمه

ولور: زه به دې مور ته زارۍ وکړم / پلار دې ظالم دی د ولور تمه

کوینه

وطني مینه: خاونده سل ځله ژوند راکړې / چې د وطن په مینه سل ځله مړه شمه

۳. فولکلوریک ادب د یوه ولس د ژوندانه بېلابېل پړاوونه، لوړې ژورې، پرمختګ او پر شا تګ او داسې نورې خواوې په احساساتي، خوندوره او تول تللې ژبه بیانوي.

ادامه...

۴. فولکلور د ولسونو تاریخ، احساسات، عقیدې او باوروونه ژوندي ساتي او له یوه نسل څخه يې بل نسل ته په شفاهي ډول انتقالوي. هغه وخت چې تلوېزیون او ... نه وه؛ له فولکلوریک ادب څخه د پند، عبرت او ساعت تېرۍ د یوې غوره وسیلې په توګه کار اخیستل کېده.

۵. فولکلور موږ ته د مختلفو پېښو او شرایطو پر وړاندې د یوه ولس د نظریاتو جوړښتونه را په ګوته کوي او څرګندوي چې یو ولس د مختلفو پېښو د پېښېدو پر وړاندې څه ډول نظر لري.

۶. فولکلور د انسانانو د ژوند پېښو د ساتنې یوه وسیله ده. دغه راز په فولکلور کې یو لړ تاریخي حقایق چې د ابهام په غبار کې پټ پاتې دي، استنباط کولای شو. ډېر داسې اتلان لرو چې په لیکلي تاریخ کې يې یادونه نه ده شوې، ولې دوی ډېرې سترې کارنامې لري. تاسې به په لنډو او سروکو کې د مادني ببو په اړه اورېدلي وي....

**راځو دې ته چې په اوس وخت کې د فولکلور ارزښت په څه کې دی؟**

زموږ فولکلوریک ادبیات هغه ادبیات دي چې پرون یې هم ارزښت لره او زموږ ولسونو پرې خپله ادبي تنده ماتوله. نن هم ارزښت لري او موږ پرې د خپل ادبي تاریخ د یوې برخې په توګه ویاړو او سبا ته به هم له لوړ ارزښت څخه برخمن وي او راتلوونکو نسلونو ته به د میراث په ډول پاتې کېږي.

فولکلوریک ادبیات د معنا د لېږد له مخې په څو ډوله دي، مثلاً ځینې د معنا د لېږد له مخې منفي وي، مثلاً: دعوه باري ونه ده. یا داسې بېلګې چې هلته خلک ناوړه چارو ته هڅول کېږي او ځینې یې ممکن تشې خبرې وي، مګر د فولکلوریک ادب درنه برخه د معنا د لېږد له مخې مثبته ده، چې لوړ ادبي، ژبني، تاریخي، فرهنګي، ملي، اسلامي، ټولنیز او نور ګڼ ارزښتونه پکې نغښتل شوي دي.

**۱. فولکلوري ادبیات زموږ د تاریخي هویت او ملت پېژندنې یو ستر سند دی!**

د انساني ټولنو د هویت په اثبات کې به ډېر عوامل رول لري، ولې یو مهم عامل د هغې ټولنې ژبه او ادب دی، موږ چې وایو ۵۰۰۰ کلن تاریخ لرو، یو دلیل یې زموږ ادبیات دي. که له لیکلو ادبیاتو یې راپیل کړو، نو لومړی لیکلی نظم له (۱۳۹هـ) څخه... مګر زموږ فولکلوریک ادبیات د دغې داعیې د اثبات لوی ثبوت دی چې خورا لرغونی تاریخ لري.

ادامه...

استاد حبیب الله رفیع «د خلکو سندرې» نومې اثر کې لیکي: «د ولسي ادب پیل درې نیم زره کاله پخوا د آریایي قومونو د شاعرانو او مبلغینو له هغو شعرونو او تبلیغو څخه شروع شوي دي، چې لومړی یې د باختر په سیمو او بیا یې د هندوکش په لمنو کې د خپلو پلرونو کارنامې، مذهبي احساسات، دودونه، دستورونه، روایات او نورې اخلاقي لاربښوونې په شعرو کې ځای کړي دي او دا د دې لپاره چې د دوی راتلونکی نسل د خپلو پلرونو خصوصیات او کړه وړه هېر نه کړي...»، نو پر همدې اساس ویلای شو چې: فولکلوریک ادبیات زموږ د تاریخي هویت ستر سند دی.

**آیا ادبیات ټولنې او قوم ته هویت ورکولای شي؟**

ادبیات که هغه لیکني وي او یا ګړني تر ټولو ستر ارزښت یې په دې کې دی چې یوې ټولنې او قوم ته هویت ورکوي، په دې اړه **محمود طرزی** یو ځای داسې لیکي: ( یک قوم به زبان خود و زبان به ادبیات خود باقی می ماند.)؛ معنا دا چې د ژبې د بقا او ژوندي پاتې کېدو وسیله ادب دی، خو د قوم او ټولنې د ژوندي پاتې کېدو وسیله ژبه ده، نو کله چې ادبیات و نه لرو، ژبه نه لرو او کله چې ژبه و نه لرو بیا قوم نه لرو.

ادامه...

**۲. په فولکلوریک ادب کې د جنسیت له اړخه انډول او په شکلي او موضوعي لحاظ په لیکلو ادبیاتو کې د دغه ډول موضوعاتو تقلید او پیروي!**

زموږ د فولکلوریکو ادبیاتو بل ستر ارزښت په دې کې دی چې زموږ د ټولنې د ټولو اقشارو برخه پکې ثابته ده، مثلاً که خپل فولکلوریک ادبیات په دوو برخو (خاصو او عام فورمونو) ووېشو، نو په خاصو فولکلوریکو ادبیاتو کې مطلق اکثریت برخه **نارینه** لري او په عامو سندرو کې بیا درنه برخه د **ښځو** له خوا ویل شوې ده.

په عمومي ډول؛ د **نارینه** وو د فولکلوریک ادب په بېلګو کې اکثره د ننګ، تورې، غیرت، مېړانې او هېواد پالنې موضوعات راغلي چې د پردیپالو او بهرنیو یرغلګرو پر وړاندې پکې د هېواد اصیل بچیان په ټینګه درېدلي او دوی یې له خپلې خاورې څخه شړلي دي. د دغسې موضوعاتو بیان په اوس وخت کې زموږ نوی نسل د خپلو پلرونو او نیکونو له اصلي تاریخ څخه خبروي.

دغه راز که د **ښځو** ادبیاتو ته پام وشي، هلته ډېر کله د محرومیتونو موضوع زموږ مخ ته درېږي چې د تاریخ په اوږدو کې ښځې تل له خپلو شرعي حقوقو، لکه تعلیم، میراث، په نکاح کې د انتخاب حق او... څخه بې برخې شوې دي، د ښځو د فولکلوریک ادب له ډېرو بېلګو څخه برېښي چې دوی په معنوي لحاظ د تاریخ په بېلابېلو پړاوونو کې ځورول شوې، محرومې شوې او لا هم دغه حالت دوام لري چې زموږ د ټولنې یو منفي ارزښت

ادامه...

[ د آدم خان او درخانۍ په نکل کې درخانۍ خپل پلار ته وايي: چې زما همزولې ټولې نجونې په مسجد کې خپل درسونه وايي او زه په کور کې ناسته یم، زه هم سبق وایم، ما هم سبق ته کښېنوه.... (ملي هېنداره)

**څنګ کولای شو چې زموږ د ټولنې دغه منفي ارزښت په یوه مثبت ارزښت بدل کړو؟**

په اوس وخت کې يې ارزښت دا دی چې د دوی شرعي غوښتنو ته باید نور لبیک وویل شي او دوی باید نورې له خپلو شرعي او ديني حقوق څخه محرومې نه کړای شي.

**په فولکلوري ادب کې د ښځو د محرومیت انعکاس په اوس وخت کې څه ارزښت لري؟**

ارزښت يې په دې کې دی چې زموږ د ټولنې ښځینه قشر یو مبارز قشر و او دی او خپل محرومیتونه يې په هسکه غاړه د ادب په وسیله روښانه کړي دي او له ادب څخه يې د یوې وسیلې په توګه کار اخیستی دی او هېڅکله يې له خپلې برحقې مبارزې څخه لاس نه دی اخیستی. په دغه برخه کې د (۲۱پېړۍ) ښځو ته هم یو لوی پیغام پروت چې هېڅکله له خپلو شرعي حقوقو څخه ( چې د اسلام مبارک دین ورکړي) د محرومیت په صورت کې چوپ پاتې نه شي او د خپل حق لپاره غږ پورته کړي.

په اخرت کې به نارې کړم / زه له دنیا نه ارماني راغلې یمه
ولې به نه ژاړم عالمه / چې زوړ سړی مې د پالنګ تمه کوینه
زما په برخه دې کمکی کړ / زه چې کمکی یار لویوم زړه به شمه

**ادامه...**

په فولکلوریک ادب کې **ماشوم** هم خپله ځانګړې او غني برخه لري چې دا هم په خپل وار د جنسیت او ذوق له مخې په دوو برخو وېشلای شو.

په اوس وخت کې د ماشومانو د فولکوریک ادب ستر ارزښت په دې کې دی چې د ماشوم ادبیاتو لیکوال دې خپله د ماشومانو تخلیقات وګوري او د هغو تخلیقاتو په پېروۍ دې ماشومانو ته ادبیات تخلیق کړي، لکه...

## ادامه...

د مور د سترګو توره ځه! (الف) او (ب) زده کړه
بلا دې واخلم (پ) او (ت) ورسره (ټ) زده کړه
مکتب ته لاړ شه! (ث) او (ج)، (چ) (ح) او (خ)
زده کړه
معلم ته کېنه! (ر) او (ړ)، (ز) (ژ) او (ږ) زده
کړه...
بې ټکو نرمه یا مفرد او مذکره (ی) ده
لکه (سپین ږیری، لوی، سړی) دېرې کیسې زده کړه
د نارینه جمع نومونو په اخر کې راځي
دوه ټکي ځنګ په ځنګ لري څرګنده (ي) زده کړه
له اوږدې (ې) لاندې دوه ټکي لاندې باندې کیږده
د ښځینه نومونو پای کې لکۍ واله (ۍ) وي
( نجلۍ، غوټۍ، سپوږمۍ) په توګه د بېلګې زده کړه
په وکړئ! مه کړئ! لاړ شئ! راشئ! کې
زور کې واله (ئ) کارېږي، دا قاعدې زده کړه

الف، بې، تې
زموږ و کور ته به راځې
ثې، جیم، حې
حلوا به پخوې
تې، ټې، ثې
مستې به هم ښتې
چې، ځې، څې
هګۍ به ماتوې
حې، خې، دال
ته را واچوه یو بال
ډال، ذال، رې
ماته را که الوچې
ړې، زې، ژې
وریځې ځغلې لکه بزې...

**نوټ:** پورته دواړه نظمونه د ماشومانو لپاره ښوونیز اړخ لري، مګر دویمه نمونه د ماشوم د خپلو تخلیقاتو په پیروۍ لیکل شوې چې ماشوم یې د دویمې بېلګې په پرتله ژر زده‌کولای شي، نو

**ادامه...**

۳. په اوس وخت کې د فولکلوريکو ادبياتو بل ارزښت دا دی چې همدغه ادبيات زموږ د فرهنګي او ادبي تاريخ ستره برخه جوړوي چې د دغو ادبياتو د راټولونې او څېړنې له مخې به اوسني او راتلونکي نسلونه له خپل ملي ادبي او فرهنګي تاريخ څخه خبر او اګاه شي، ولې د فولکلوريکو ادبياتو د څېړنې پر وخت پوره دقت ته اړتيا ده. (ولې؟)

د يوې خبره سپيناوی اړين بولم؛ د پښتانه شعراء نومې اثر په لومړي ټوک کې د ځينو فولکلوريکو کيسو نارينه او ښځينه قهرمانان شاعران بلل شوي او دوی ته منسوبې نارې او نظمونه د دوی خپل شعرونه بلل شوي دي....

۴. په معنوي لحاظ فولکوريک ادبيات ډېر ډولونه لري، لکه: تاريخي، حماسي، عشقي او نور عام ټولنيز موضوعات؛ د دغو ادبياتو د راټولونې او ساتنې په برکت سره به زموږ اوسني او راتلونکي نسلونه د خپلو پلرونو او نيکونو له ژوند او ژواک څخه خبر شي، د دوی له حماسو، مېړانو، ټولنيز ژوند او وطني مينې څخه به خبر شي او په ټولنيز ژوند کې به د دوی کارنامې د خپل ځان لپاره الګو وګرځوي.

**ادامه...**

**۵. په اوس وخت کې د فولکلوریک ادب بل ارزښت دا هم یادولای شو چې نورو علومو ته د څېړنې او تحلیل لپاره مواد په لاس ورکوي.**

فولکلوریک ادب مجرده او جامده پدیده نه ده، بلکې له نورو علومو ...

**الف -** ژبپوهان کولای شي د فولکلوریکو ادبیاتو په لهجوي او ګرامري مسایلو څېړنه وکړي او د تاریخ په اوږدو کې یې ژبنې بدلونونه وڅېړي.

**ب -** یوه تاریخ پوه ته دا زمینه برابروي چې په ولسي ادبیاتو کې د راغلو پېښو تحلیل او څېړنه وکړي او هغه پېښې، نومونه او اتلان څرګند کړي چې لا تراوسه هم له تاریخ نه پټ پاتې دي، مثلاً: د میرویس خان او ګورګین ترمینځ د جګړو کیسې، د غازي صاحب خان تره کي او انګرېزانو جګړې، د محمد شاه خان بابکرخېل او انګرېزانو جګړې، د ایمل خان مومند او مغولو جګړې اوداسې نور یادولای شو.

ـ فولکلور د تاریخي څېړنو لپاره زیات مواد برابر کړي دي، د هغو لرغونو پېښو د توضیح لپاره چې د لیک له ایجاد نه وړاندې واقع شوي دي له فولکلور څخه د یوې مهمې منبع په توګه ګټه اخیستل شوې ده.

ـ فولکلوریک ادبیات، لکه نکلونه، چاربیتې، لنډۍ او نور زموږ د تاریخ ډېرې پټې او نامعلومې پېښې او د دغو پېښو قهرمانان موږ ته را پېژني، نو ویلای شو چې زموږ افغاني فولکلور له افغاني ټولنې څخه په ډېره ښه توګه نمایندګي کوي.

**ادامه...**

کېدای شي د فولکلوریک ادب ډېره برخه افسانوي وي، یعنې له خیالي نړۍ سره تړاو لري، خو اکثره برخې یې تاریخي دي، یعنې د تېرو وختونو د حقایقو او شواهدو یوه برخه ده.

**ج ـ** فولکلور **یوه اړواپوه** ته دا زمینه برابروي چې د تاریخ په مختلفو پړاوونو کې د ټولنې په روحیاتو باندې بحث او څېړنه وکړي او د دغو فولکلوریکو ادبیاتو پر اساس د یوې ټولنې جوړښتونه وپېژني.

دغه راز **ټولنپوهنه (سوشل سیانس)** تر ډېره بریده د ولسونو او ټولنو په څېړنه، مطالعه او د هغو په پېژندنه او تشخیص کې شفاهي ادب ته د یوې مهمې او غوره باورې سرچینې په توګه مخ ور اړوي او د اړتیا پر مهال ترې ګټه پورته کوي، ځکه فولکلوري ادب، که هغه نظم وي یا نثر د ولسونو او خلکو د ژوند بېلابېل اړخونه انځوروي.

**ادامه...**

**۶.** په اوس وخت کې په فولکلوریکو ادبیاتو کې بل مهم بحث د ساینس فیکشن موضوع هم یادولای شو چې ځانګړی ارزښت لري. ساینس فیکشن؛ له دوو کلمو څخه رغېدلې چې (ساینس) د علم په معنا او (فیکشن) د داستان او تخیل معنا ورکوي، چې د علمي تخیلي داستانونو معنا افاده کوي.

ساینس فیکشن په دوه ډوله دی: سخت او نرم ساینس فیکشن.

**سخت ساینس فیکشن:** هغه داستانونه چې بنسټ یې خالص په ساینسي معلوماتو او نظریاتو ولاړ وي، مثلاً د **نصیر احمد** په یوه ناول **(جوجو)** کې.... په دې ناول کې له بلې سیارې څخه د یوه موجود راتګ، لېزرونه، د سکرین څخه استفاده کیسه ییز خیال ته ساینسي رنګ ورکړی دی.

**نرم ساینس فیکشن:** هغه داستانونه چې بنسټ یې خپله انسان او ټولنه وي، یعنې له ساینس ډېره توجه پکې د انساني ژوند بېلابېلو اړخونو ته کېږي.

د ساینس فیکشن موضوع په فولکلوریکو ادبیاتو کې د بحث وړ موضوع ده، ځکه په اکثرو فولکلوریکو ژانرونو، خصوصاً په نکلونو او کیسو کې داسې غیر طبیعي او له خیال نه لرې شیان هم شته چې په دنیا کې هر ناممکن کار ته یوه لار جوړوي او هغه کار ممکنوي چې دا ډول کړنې په اوس وخت کې انسان فکر کولو او د ستونزو پر وړاندې برې ته هڅوي.

د ساینس فیکشن ارزښت...

**ادامه...**

۷. بل مهم ارزښت یې په دې کې دی چې په فولکلوریکو ادبیاتو کې زموږ **د ټولنې ډېر مهم خصوصیات** راوړل شوي چې زموږ د **نوي نسل په ښوونه او روزنه** کې رغنده رول لرلی شي، لکه: رښتیا ویل، د حق طرفداري، لوړ همت، شجاعت، له خاورې او وطن سره مینه، د قوم محبت، د ننګ په ځای کې د مال او ځان ایثار او قرباني، دیانت او وفا، ځوانمردي، له بې وزلو سره مرسته، همدردي او داسې نور، دا ټول هغه خویونه دي چې انسانیت باید ورباندې ونازېږي. مېلمه پالنه، په دوستۍ کې خلوص، په وعده وفا او ټینګ درېدل د یوه قوم په نفسي او روحي قوت دلالت کوي. په ځان وېسا او باور، زیار ایستل او د خپلو لاسونو په قوت ژوند کول، د یوه ژوندي قوم نخښې او علامې دي چې له نېکه مرغه دا ټول زموږ په ولس کې شته دی.

**که په ژبه پښتو وايي پښتون نه دی ـ چې بې ننګه، بې غیرته، بې پښتو وي**

**د مومن خان او شېرینو په نکل کې** مومن خان په هندوستان کې د یوه پاچا لور له یوه لوی ښامار څخه خلاصوي، د دې مېړانې له امله مومن خان د پاچا په دربار کې اوچت مقام ګټي.

**د فتح خان او رابیا په کیسه کې** ځو پښتانه ځوانان د خپل ملي احساس له مخې غواړي چې ځانته ویاړونه وګټي، خو دوی د دغو ویاړونو د لاسته راوړلو او ګټلو په لاره کې خپل ژوند له لاسه ورکوي او یواځې د داستان قهرمانه (رابیا) پاتې کېږي او ټول عمر د (فتح

**ادامه...**

۸. د فولکلوري ادب بل غوره ارزښت دا دی چې دغه ادب موږ ته د یوه ژوندي تاریخ په څېر دي چې په اوس وخت کې د هغو له څېړنې او بر رسۍ څخه موږ ته **غوره اجتماعي پایلې** هم په لاس راتلای شي، مثلاً که تاسو د **( فتح خان او رابیا)** نکل ته پام وکړئ، ښې اجتماعي پایلي ترې په لاس راتلای شي، مثلاً

ـ د فتح خان د سیاسي مشرۍ یو څرګند خصوصیات دا دی چې دی د خپل اوږده سفر او لنډ سیاسي حاکمیت په دوران کې تل د خپلې(مېرمن) په شمول له خپلو ټولو یارانو سره مشورې کوي او نظر یې اخلي او تل خپل یاران اتحاد او اتفاق ته رابولي

ـ فتح خان د یوه سیاسي مشر تابه په توګه د جرګو او مرکو شوقي دی، مصالحه او روغه جوړه خوښوي، خو په عین وخت کې قاطع، شجاع او بهادر انسان دی.

ـ کله چې د فتح خان حکومت په سیمه کې تثبیتیږي، دی له خلکو سره غوره او نرم چلند کوي، د خلکو ورځنیو مشکلاتو ته جدي پاملرنه کوي، خپلمنځي شخړې یې حل او فصل کوي د فتح خان دا ډول رویه دا ښیي چې هغه د خلکو واقعي مشر و.

**ادامه...**

- **په ملي مسایلو او حکومتي چارو کې خپلوي او دوستي پالل او د خپلو خپلوانو او دوستانو په خرابو او عقدوي کړنو سترګې پټول،** مثلاً: فتح خان د کرم خان په کرکټر باندې پوه دی، خو هېڅکله د کرمي د راکنټرولولو لپاره جدي اقدام نه کوي او تل وربانديې د وروروليې رشته غلبه کوي او د کرمي پر ظلم او ناروا باندې سترګې پټوي.

کرم خان د مالیاتو په راټولولو کې ظلم او زیاتی کوي. نا حقه د شمس الدين پاچا د مالیاتو د برخې سپاهیان وژني او په کاروانونو یې ناحقه بریدونه کوي.

په پایله کې یې د شمس الدين پاچا او فتح خان د ریاستونو ترمنځ جنګ کیږي او فتح خان پکې وژل کیږي. فتح خان ته په کار وه چې د کرمي له ظلم، فساد او ناروا وروسته یې د هغه لاسونه له حکومتي چارو څخه ورلنډ کړي وای، ولې دا کار یې ونه کړ. د فتح خان په مشرۍ کې همدا مهمه کمزوري وه چې د همدې کمزورۍ پر اساس یې سر وخوړ.

- **د قوتونو تناسب په پام کې نه نیول:** فتح خان له خپلو (۵۹) ملګرو سره په هند کې د شمس الدين له زرګونو سر تېرو سره جنګیږي چې هېڅ ډول کومک او مرسته نه ور رسیږي چې دا کار د یوه عاقل او هوښیار نظامي مشر کار نه و، فتح خان په وروستیو شېبو کې په خپله دغه تېروتنه پوهیږي، خو ډېره ناوخته وه او وخت پرې تېر و.

# ادامه...

۹. د فولکلور ارزښت په دې کې هم دی چې د یوه ملت ټولې (مادي او معنوي) خواوې پکې شاملېږي. فلکلور د یوه ولس د ټولو پوهنو مور ګڼل کېږي.که غواړو چې د یوه ملت په اړه پاخه او دقیق معلومات ولرو باید فلکلور یې مطالعه کړو چې د حبیب الله رفیع کتاب (فولکلور د علم مور) یې یوه ښه بېلګه ده.

۱۰. زموږ په فولکلوریک ادب کې د کلتور او فرهنګ یو ډول تسلسل تر سترګو کېږي، په دې معنا همدا ادب دي چې تېر مهال له اوسمهال او اوسمهال په راتلونکي پورې تړي او تسلسل ورکوي. (مانیز ګډون)

ـ په اوس وخت کې د فولکلور ارزښت له دې څخه هم معلومېږي چې په نړیواله کچه ورته پاملرنه کېږي. په مختلفو علمي او فرهنګي مراکزو او ادارو کې ورته انستیتوتونه، ډیپارټمنټونه او مراکز جوړ شوي چې عملاً د فولکلور په اړه څېړنې کوي.

ـ که په اوس وخت کې د پښتني فولکلور په ارزښت هر څومره خبرې وکړو، بیا هم کمې دي، ځکه فولکلور عملاً زموږ په ژوند کې دخیل دی، مثلاً موږ عملاً په خپل عملي ژوند کې متل، ولسي اصطلاحات او محاورې کاروو، ولسي سندرې، لوبې او لنډۍ لا هم ژوندۍ دي او خلک پرې خپله ادبي تنده ماتوي.

ـ څومره چې په اوس وخت کې متنپوهنه، ژبپوهنه او کره کتنه ارزښت لري، له دې څخه ډېر ارزښت فولکلور او فولکلوریک ادبیات لري.

## پایله

په پای کې د دغو ټولو پورتنیو څېړنو او مطالعاتو پایله او نتیجه داسې وړاندې کوم:

فولکلوریک ادبیات له ډېرو پخوا زمانو څخه په ولس کې شته او د انسان د روح د خوشحالتیا او د فکر د ارامتیا او دمې لپاره ترې کار اخېستل کېږي چې له ځان سره ګڼ ټولنیز، روزنیز او نور بېلا بېل پیغامونه لري. فولکلوریک ادبیات د لنډو او اوږدو ادبي ویناوو په توګه په ولس کې رامنځته شوي، له ولسي پېښنو رنګ اخلي او په شفاهي ډول سینه په سینه له یوه نسل څخه بل نسل ته لېږدېدلي دي، د پښتو فولکلوریک ادبیات د نننی او نوي ادب ډېر خصوصیات لري چې له جملې څخه یې نکلونه او کیسې د نوې کیسه لیکنې د فن له پلوه د پاملرنې وړ دي.

په فولکلور کې زموږ د ملي اتلانو کارنامې، ملې ویاړنې او د تاریخي پېښنو څرګندونې خوندي دي چې د یوه ژوندي ملت د هویت څرګندونه کوي. ډېر ملتونه پېژنو او شته چې په اقتصادي او سیاسي برخه کې له موږ څخه لومړي دي، مګر دوی د هویت له ستونزې سره مخامخ دي، هویت یې لا ثابت نه دی، د هویت لومړۍ سرچینه همدغه فولکلور او فولکلوریک ادب یادولای شو، په لویدیځو ادبیاتو کې د هومر (الیاد او اودیسه) کیسې که وګورو اوس هم نړیوال ارزښت او شهرت لري چې د یونان لرغونی تاریخ یې د عروج تر پړاوونو رسولی. همدغه شان زموږ لرغوني ملي کیسې هم د نړۍ پر مخ زموږ تاریخ تر زرګونو کلونو رسوي

## ادامه...

د انساني ټولنو د تاریخي هویت په اثبات کې به ډېر عوامل رول لري، ولې یو مهم عامل یې د هغې ټولنې ژبه او ادب هم یادولای شو، ځکه د ژبې د بقا او ژوندي پاتې کېدو وسیله ادب دی، خو د قوم او ټولنې د ژوندي پاتې کېدو وسیله ژبه ده، نو کله چې ادبیات و نه لرو، ژبه نه لرو او کله چې ژبه و نه لرو بیا ټولنه نه لرو، نو د قومونو او ټولنو د هویت د اثبات لپاره لومړی شرط ژبه او ادب یادولای شو.که له لیکلو ادبیاتو څخه یې راپیل کړو، نو زموږ لومړی لاسته راغلی نظم له (۱۳۹هـ) څخه راپیلېږي، مګر زموږ فولکلوریک ادبیات د دغې داعیې د اثبات لوی ثبوت دی چې خورا لرغونی تاریخ لري، نو پر همدې اساس ویلای شو چې: ( فولکلوریک ادبیات زموږ د تاریخي هویت او ملت پېژندنې ستر سند دی.)

په هر حال، موږ باید خپل اصلي پښتني او افغاني دودونه، خصلتونه او خپل اصیل، هېوادنی ملي او اسلامي فرهنګ وپېژنو، وې پالو او د پردیو له لیلامي او پراشوټي فرهنګ او فرهنګي تېري څخه ځان وساتو. په اوس وخت کې باید فولکلوریک ادبیات د یوه ټولنیز ارزښت په توګه وپالل شي او ساتنه یې وشي، ترڅو راتولونکو نسلونو ته د یوه ستر معنوي ارزښت په توګه ورسېږي.

د فولکلوریکو ادبیاتو د ارزښت او اهمیت د پېژندنې لپاره به همدا بس وي چې و وایو دا ادبیات د هر ولس، ټولنې او ملت په ادبي تاریخ کې ډېره ستره او ارزښتمنه ونډه لري او

## وړاندیزونه

۱. د فولکلوریکو ادبیاتو لوړو ارزښتونو او اهمیت ته په کتو په ټولو علمي، ادبي او فرهنګي مراکزو، خوصوصاً د افغانستان د علومو اکاډمۍ مشرتابه ته وړاندیز کوم چې د فولکلوریکو ادبیاتو د راټولونې او مسلکي څېړنې په برخه کې دې جدي پاملرنه وکړي او د فولکلوریکو ادبیاتو د راټولونې او څېړنې په برخه کې دې څېړونکو ته مناسب شرایط برابر کړي، تر څو دغه ستره معنوي شتمني له ولسونو څخه راټوله او په ښه ډول وڅېړل شي.

۲. زموږ فولکلوریکو ادبیاتو ته هغسې چې لازمه ده، تر اوسه سمه پاملرنه نه ده شوې، که تاسې د لرغوني یونان ادبیاتو ته سر وربښکاره کړئ او هلته د هومر شاعر /الیاد او اوډیسه/ نومې آثار وګورئ، ډېرې زیاتې اسطوره یي پېښې پکې شته چې د همدغو پېښو په برکت د لرغوني یونان ادبیات نن ورځ په نړۍ والو ادبیاتو کې ځانګړی ځای لري او ټوله نړۍ یې د فرهنګ زانګو بولي، خو زموږ فولکلوریک ادبیات په خاص ډول ولسي او فولکلوریکې کیسې چې اکثره یې حماسي بنې لري، ډېرې اسطوره یې پېښې هم پکې راغلي، که اوس ورته هم پاملرنه وشي، ښې پایلې به ولري.

۳. د فولکلوریک ادبیاتو فورمونه اصلاً زموږ ملي ادبیات تشکیلوي، څکه چاربیتې، بګټۍ، لوبې او بدلې؛ زموږ ملي ادبیات دي، یعنې فورم او محتوا دواړه یې زموږ دي. زه په خپلو شاعرانو غږ کوم چې خپلو ملي فورمونو ته هم توجه وکړي، دا نه وایم چې دوی دې له

## مأخذونه


۱. احمدي، نصیر احمد. رنګه غوړونه، مومند خپرندويه ټولنه: جلال اباد، ۱۳۹۰ل.
۲. بختانی، عبدالله. پښتني خويونه، د محمد دين ژواک په اهتمام، پښتو ټولنه، د نشرياتو لوی مديريت: د کابل عمومي مطبعه، ۱۳۳۴ل.
۳. رفيع، حبيب الله. د خلکو سندرې، د افغانستان اکاډيمي، د تاريخ او ادب ټولنه، کابل، دولتي مطبعه، ۱۳۴۹ل ۲۶۲،مخ.
۴. روهي، محمد صديق. فولکلور پېژندنه، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز: کابل، دولتي مطبعه، ۱۳۶۵ل.
۵. سنګروال، شهسوار. شمشاد تلوېزيون، محراق خپرونه (مرکه)، د خپلواکۍ د بېرته ګټلو د (۱۰۳) کاليزې په وياړ: کابل، ۲۸/۵/۱۴۰۱، مابنام ۶بجې.
۶. صلاحي، محمد نبي. په افغانستان کې د فولکلور پېژندنې اړتيا، ( دپښتني فولکلور تاريخي او ټولنيز ارزښت)، د علومو اکاډمي:کابل، چهارهي مطبعه، ۱۳۹۸ل.
۷. عايل، نور احمد. علمي تخيلي داستانونه، پکتيا پوهنتون: پکتيا، ۱۳۹۸ل.
۸. عطايي، محمد ابراهيم. د پښتو پر شفاهي  داستان يوه تحليلي څېړنه، د اطلاعاتو او کلتور وزارت د نشراتو رياست،۱۳۷۰ل، ۱۳مخ.
۹. ناصر، نصرالله. د پښتني فولکلور د چاپي مجموعو څېړندود، دويم چاپ، د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست: کابل، الهام نبي زاده مطبعه، ۱۳۹۹ل.
۱۰. نوري، محمد ګل. ملي هينداره (لومړی، دويم او درېيم ټوک)، د مطيع الله روهيال په اهتمام، د کندهار د اطلاعاتو او فرهنګ رياست: کندهار، ۱۳۸۹ل.

# پوښتنې، نظریات او وړاندیزونه

# ؟

له حوصلې او پاملرنې

مو نړۍ

مننه!